# شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: **يو مسلمان پر بل مسلمان باندي شپږ حقونه لري:** ۱ـ دا چي ورسره مخامخ سي؛ نو سلام ور اچوه. ۲ـ دا چي كله هغه دعوت وكړي؛ نو قبلوه ئي. ۳ـ دا چي كله هغه د نصيحت يا مخلصانه مشورې طلب وكړي؛ نو نصيحت يا ښه مشوره وركوه. ۴ـ دا چي هغه ته پرنجی (پرچی) راسي او هغه الحمدلله ووائي؛ نو يرحمك الله وايه. ۵ دا چي كله مريض سي؛ نو د هغه عيادت كوه. ٦ـ دا چي كله هغه مړ سي؛ نو جنازې ته ئې ور ځه. [صحيح مسلم كتاب السلام (ص:۲۱۳ ج:۲)]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


پنجشنبه | د رجب المرجب ۲۱-۱٤٤٥ل س/ د سلواغې ۱۲-۱٤۰۲ل ل/ د فبروری ۱-۲۰۲٤ز/دوهم كال / ۸۵ گڼه/ ٤ مخيز




# د روان ۱۴۰۲ مالي كال په لومړيو(۱۰) مياشتو كي د گمركونو صادرات زيات سوي دي

د ماليې وزارت له لوري د هيواد په گمركونو كي سوداگرو ته د رامنځته سوو اسانتياوو او له فساد سره د جدي مبارزې له امله، د روان (۱۴۰۲) كال په لومړيو (۱۰) مياشتو كي يو شمېر هيوادونو ته د څه باندي (۱۲۲) ميليارده افغانيو په ارزښت صادرات ترسره سوي دي.

**په ترسره سوو صادراتو كي د څه باندي**

- (۴۳) ميليارده افغانيو په ارزښت مېوې
- د (۱٦) ميليارده افغانيو په ارزښت پنبه
- د (۱۷) ميليارده افغانيو په ارزښت سبزيجات

شامل دي، چي پاكستان، هندوستان او متحده عربي اماراتو ته صادر سوي دي. د ماليې وزارت تل هڅه كړې، چي د كورنيو او بهرنيو سوداگرو لپاره په گمركي طی مراحلو كي اړيني اسانتياوي رامنځته كړي؛ ترڅو سوداگر وكولای سي په لنډه موده كي د سوداگريزو توكو گمركي طی مراحل په اسانۍ ترسره كړي.

**صادرات**

۱۴۰۲كال — (حمل- جدي) ۱۰مياشتو

| مجموعه | ميليارد افغاني |
|---|---|
| اقلام | گمركي ارزښت |
| صادراتي اقلام | ۱۲۲،٦۳۳ |





# د ماليې وزير د بلخ په گمرك كي د (۴۷.۵) ميليونه افغانيو په ارزښت د موټرونو د تمځای جوړېدو پرانيستنه وكړه






د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند، چي په رسمي سفر بلخ ولايت ته تللی د (۴۷.۵) ميليونه افغانيو په ارزښت ئې د ياد ولايت په گمرك كي د موټرونو د تمځای جوړېدو پرانيستنه وكړه. په دې پرانيستغونډه كي، چي د بلخ والي حاجي محمد يوسف وفا، د گمركونو لوی رئيس الحاج مفتي عبدالمتين سعيد، د بلخ ولايت د گمرك رئيس، د دغه ولايت مستوفي، د سوداگرۍ او پانگوني خوني رئيس او د يو شمېر سيمه ييزو ادارو مسؤلينو هم گډون كړی وو، د بلخ والي د سوداگرو د هڅوني تر څنگ وويل، چي د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ په هدايت ټولي اداري مكلفي دي، چي په بېلابېلو برخو كي سوداگرو او پانگه والو ته لازمي اسانتياوي چمتو كړي. د ماليې وزير وويل، چي زموږ هڅه دا ده، چي په هيواد كي د سوداگرۍ د لا ودي او سوداگرو ته د لازمو اسانتياوو د چمتو كولو په موخه د هيواد په پاتي گمركونو كي هم ورته پروژې پيل كړو. د گمركونو لوی رئيس د دې پروژې د تخنيكي معلوماتو د شريكولو تر څنگ وويل، چي د گمركونو لوی رياست په دې هڅه كي دئ، چي د هيواد په گمركونو كي سوداگرو ته ټولي ممكني اسانتياوي رامنځته كړي او موږ چمتو يو، چي شته امكاناتو ته په كتو د دوی ټولي غوښتني ومنو. د بلخ گمرك د موټرونو د تمځای پروژه په شاوخوا (۷،۵) جريبه ځمكه كي پلې كېږي، چي چاري به ئي تر راتلونكو (۷) مياشتو پوري بشپړي او تمځای به اساسي كانگريټ سي. د يادوني وړ ده، چي د يادي پروژې بوديجه د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه وركول كېږي.

## سر مقاله

### افزايش صادرات گامی بسوی خود كفايی اقتصادی

ازآنجايكه صادرات به عنوان بخشی از نظام سرمايه داری و اقتصادی كشورها، نقش عمده‌ای در رشد و توسعه بسترها و فرصت‌های اقتصادی دارد. صادرات بدون توجه به ميزان توليد داخلی و سرمايه گذاری در عرصه توليد، غير قابل ملاحظه بوده و معنا و مفهومی اقتصادی و مالی برای اقتصاد كشور را ندارد. تجارت و به ويژه صادرات می‌بايست از مباحث مهم و قابل توجه اقتصادی افغانستان باشد و بايد توجه خاصی به تجارت خارجی صورت گيرد. سياست های مهم و متفاوت جهت انكشاف صادرات و جايگزينی واردات يكی از ابزارهای اساسی حكومت امارت اسلامی می باشد تا بتواند ضامن خودكفايی اقتصادی اين كشور گردد. برای تقويت صادرات بايد سياست های اقتصاد محور و سالم خارجی روی دست گرفته شود و در اين زمينه، امارت اسلامی تلاش می كند برای تشويق صادرات برنامه های جديد را روی دست داشته باشد وميكانيزم های مشاركت تجاری ميان بخش خصوصی و دولت را ايجاد كند تا بتواند خطرات سرمايه گذاری را برای بخش خصوصی كاهش دهد و سبب تشويق سرمايه گذاری در بخش های كليدی و زيربنايی شود. ساده سازی طرزالعمل های صادراتی يكی از اهداف اساسی اين اداره بوده با وجود اين كه تا حد زيادی طرزالعمل ها و مراحل، كم و ساده شده‌اند، اما هنوز بعضی مراحل باقی مانده است كه امارت اسلامی تلاش می كند تا مانع بر سری راه صادرات وجود نداشته باشد. در گذشته فورم های ترانزيت اموال صادراتی به صورت دست نويس بود كه از اين بابت تاجران با مشكلات زيادی مواجه بودند. بنا به منظور رفع مشكلات در اين زمينه، اين فورم ها كامپيوتری شده و همچنين برای جلوگيری از هدر رفتن وقت، در طی مراحل اسناد صادراتی، اجرای ساير فورم های ترانزيت از رياست ترانزيت و تسهيلات تجاری به مركز واحد طی مراحل اسناد در گمرك كابل، تحت يك چتر واحد اجرا می شود. امارت اسلامی جهت رشد صادرات ماليات بر عوايد در صادرات را كاهش داد و در مقابل ماليات را بر اموال وارداتی كه افغانستان خود توانايی عرضه آن را در داخل دارد، افزايش داده است. بر اثر تسهيلات ايجاد شده برای تجار در گمركات كشور از سوی وزارت ماليه در ده ماه نخست سال جاری (۱۴۰۲) به يكتعداد كشور ها به ارزش بيش از (۱۲۲) ميليارد افغانی صادرات صورت گرفته. اين اداره با ايجاد پاليسی و استراتژی های صادراتی، بازاريابی و تدوير نمايشگاه های داخلی و بين المللی دست آوردهايی را در بخش‌های مختلف صادرات داشته است. در كنار ساير دست‌آوردها در اين راستا، تدوير برنامه های مشاركت تجاری ميان تاجران افغانی و خارجی و تدوير برنامه های آموزشی و آگاهی دهی در مورد طرزالعمل های صادراتی توانسته است صادرات افغانستان را در اين مدت افزايش دهد.

**با احترام**

**اداره**



د ماليې وزير د بلخ ولايت له والي سره وكتل

م ۲




د گمركونو لوی رئيس كندوز ولايت ته رسمي سفر وكړ

م ۲




د عوايدو لوی رياست د صنعت او سوداگرۍ وزارت تخنيكي كاركوونكو ته روزنيز پروگرام جوړ كړ

م ۲



د گمركونو لوی رئيس د بلخ گمرك د چارو د ارزوني په موخه ياد ولايت ته سفر وكړ

م ۲



توليد و اهميت ارزش اقتصادی صادرات بادام در افغانستان

م ۳




د افغانستان په تړاو د قزاقستان پرمختللې او پراخه تگلاره

م ٤

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

## د شکایتونو اورېدلو ریاست په تېره اوونۍ کي د مالیه ورکوونکو ۱۹ شکایتونو ته رسېدنه کړې



د مالیې وزارت د گمرکونـو او عوایـدو معینیـت اړونـد د شکایتونو اورېدلـو ریاست، چې د مالیه ورکوونکـو د مالیې د ورکړې اړونـد ټولـو شکایتونو تـه د رسېدنې مسؤلیت لـري؛ په تېره اوونۍ کې ئې (۱۹) شکایتونو تـه رسېدنه کړې ده. د شکایتونو اورېدلـو ریاسـت منظـم تخنیکـي او مسلکي کاري ټیم لري، چې شکایتونو ته د رسېدنې او عملي ځېړنو په موخه سیمې تـه ځي او د شکایت اړونـد ټـول ابعـاد پـه دقیـق ډول څېړي؛ ترڅـو د مالیه ورکوونکو بشپړ رضایت ترلاسه کړي. اوس ټـول مالیـه ورکوونکـي، چـې د تثبیـت سـوي مالیـې څخـه رضایـت ونـه لـري کـولای سي، چـې خپل شکایت دغه ریاست ته وړاندې کړي.

## د عوایدو لوی ریاست د خوست ولایت د مستوفیت کارکوونکو ته روزنیز پروگرام جوړ کړ




د مالیې وزارت د عوایـدو لـوی ریاسـت د سیسـتم ریاسـت د تحلیـل او تطبیـق آمریـت تخنیکـي کارکوونکـو د (SIGTAS_ RMIS_TAIS) سیسـتمونو پـه برخـه کـې د خوسـت ولایـت د مسـتوفیت کارکوونکـو ته (۱۵) ورځنی روزنیـز پروگرام جوړ کړ. د خوسـت ولایـت د مسـتوفیت کارکوونکـو وویـل، چـې د دې پروگـرام پـه پـلي کولو سره بـه په دې برخـه کې د دوی سـتونزې هـواري او مراجعینـو تـه بـه لا غـوره خدمات وړانـدې سي.

## د کندهار او نیمروز گمرکونو د گرځنده څارني کارکوونکو بېلابېل قاچاقي توکي نیولي دي



د کندهـار او نیمـروز گمرکونـو د گرځنـده څـارني ځیرکـو او زړورو کارکوونکـو د یـادو ولایتونـو پـه بېلابېلـو سـیمو کـې یـو شـمېر قاچاقـي توکـي، چـې افغانسـتان تـه پـه پټـه راوړل کېـدل کشـف او نیـولي دي. پـه نیول سـوو توکو کـې شـاوخوا (۳۰) ټنـه مالتـې، (٦۷) ټنه شـیریني بـاب، (۲۰۷٥) کیلو گرامه طبي درمـل، (۲۲۰۰) کیلو گرامـه ټوکـر، (۸٥۰) کیلـو گرامـه پلاسـتیك (۲۰۷۷۱) کیلـو گرامـه چاکلېـټ او ککـو او (۹٦۰) کیلو گرامه رُب شـامل دي. نیـول سـوي توکـي د نـورو اجراآتـو لپـاره د کندهـار او نیمـروز گمرکونـو ته سپارل سـوي دي.

## د مالیې وزیر د بلخ ولایت له والي سره وکتل



د مالیـې وزیـر الحـاج مـلا محمـد نـاصر اخونـد بلـخ ولایـت تـه د خپـل رسـمي سـفر پـه تـرڅ کـې، د دغـه ولایـت لـه والي حاجـي محمـد یوسـف وفـا سره وکتـل. پـه دې کتنـه کـې، چـې د بلـخ ولایـت مسـتوفي او یـو شـمېر نـورو مسـؤلینو هـم حضـور درلـود، د مالیـې وزیـر د بلـخ لـه والي څخـه مننـه وکـړه، چـې د مسـتوفیتونو لـه مسـؤلینو سره ښـه همغـږي لـري او د عوایـدو د راټولولـو پـه برخـه کـې ورسره پـوره همـکاري کـوي. پـه دې کتنـه کـې همـدا راز، پـه بلـخ ولایـت کـې د مالیاتـو د را ټولولـو پـر بهیـر، د حیرتـان گمـرك پـر وضعیـت، د مسـتوفیت او ولایتـي ادارو پـر لا ښـې همغـږۍ، پـه بلـخ ولایـت کـې د لگښـتونو د کنټـرول پـه موخـه د جـوړې سـوي کمېټـې پـر اهمیـت او اړونـد نـورو مسـائلو خـبري وسـوې او د بلـخ والي ډاډ څرگنـد کـړ، چـې پـه دغـه ولایـت کـې د مالیاتـو راټولولـو پـه پروسـه کـې بـه د اړونـد مالیـاتي ادارو سره لازمـي همـکارۍ تـه دوام ورکـوي؛ ترڅـو مالیـات پـر وخـت او شـفاف ډول راټـول او مـلي خزانې ته وسـپارل سي.

## د گمرکونو لوی رئیس کندوز ولایت ته رسمي سفر وکړ

د گمرکونـو لـوی رئیـس الحـاج مفتـي عبدالمتیـن سعید د یـوه پـلاوي پـه مشرۍ کنـدوز ولایـت تـه رسـمي سـفر وکـړ او هلتـه ئـې د کنـدوز گمـرك د چـارو د ارزونـې تـر څنـگ د کنـدوز لـه والي مولـوي نثـار احمـد نـصرت او د یـاد ولایـت لـه یـو شـمېر سـوداگرو سره جـلا - جـلا وکتـل. د گمرکونـو لـوی رئیـس د کنـدوز ولایـت د شـېرخان بنـدر لـه سرحـدي گمـرك څخـه د لیـدنې پـر مهـال د یـاد گمـرك مسـؤلینو او کارکوونکـو تـه د همکارانـو او اړونـدو ادارو تـر منـځ د ښـې همغـږۍ رامنځتـه کولـو، پـر خپـل وخـت سره د مراجعینـو سـتونزو تـه د رسـېدنې او د سـوداگریزو توکـو د طـی مراحلـو د لا چټکتیـا پـه برخـو کـې لازمـي سپارښـتنې وکـړې. نومـوړي د کنـدوز لـه والي سره پـه لیدنـه کـې د سـوداگرۍ پـه لا ودې او د سـوداگرو سـتونزو تـه د رسـېدو پـه اړه هـر اړخیـز بحـث او خـبرې وکـړې. د گمرکونـو لـوی رئیـس پـه دې سفر کـې د کنـدوز ولایـت لـه یـو شـمېر سـوداگرو سره هـم وکتـل، چـې پـه دې کتنـه کـې نومـوړي د سـوداگرو سـتونزې واورېدلـې او د ژر حـل کېـدو ډاډ ئـې ورکـړ. د یـادوني وړ ده، چـې د گمرکونـو لـوی رئیـس لـه دې وړانـدې هـم بېلابېلـو ولایتونـو تـه سـفرونه کـړې؛ څـو د هیـواد د گمرکـي چـارو د ارزونې ترڅنـگ د سوداگرو ستونزې هم له نږدې واوري او حل ئې کړي.




## د عوایدو لوی ریاست د صنعت او سوداگرۍ وزارت تخنیکي کارکوونکو ته روزنیز پروگرام جوړ کړ

د عوایـدو لـوی ریاسـت اړونـد د سیسـتم ریاسـت لـه لـوري د صنعـت او سـوداگرۍ وزارت پـه غوښـتنه د دغـه وزارت اتـو تنـو کارکوونکـو تـه د (اسیکوډا او سیکټاس) سیستمونو پـه برخـه کې روزنیـز پروگرام وړانـدي سـو. د دې پروگرام جوړولو موخه د دواوړو ارگانونو ترمنځ د ښې همغږۍ رامنځته کول او مراجعینو ته د غوره خدمتونو وړاندې کول دي.




## د گمرکونو لوی رئیس د بلخ گمرک د چارو د ارزوني په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ

د گمرکونـو لـوی رئیـس الحـاج مفتـي عبدالمتیـن سـعید، چـې د یـوه تخنیکـي پـلاوي پـه مـشرۍ بلـخ ولایـت تـه پـه رسـمي سـفر تللـی، د بلـخ گمـرك د چـارو د ارزونې تـر څنـگ ئـې د دغـه ولایـت لـه یـو شـمېر سـوداگرو سره هـم لیـدلي. نومـوړي، د بلـخ گمـرك لـه کارکوونکـو سره پـه لیدنـه کـې دوی تـه د کارکوونکـو تـر منـځ د لازمـي همغـږۍ رامنځتـه کېـدو، د اسـلامي اصولـو سره سـم د خپـل صـورت او سـیرت د برابرولـو، پـر خپـل وخـت سره د خلکـو سـتونزو تـه د رسـېدنې او یـو شـمېر نـورو موضوعاتـو پـه اړه لازمـي سپارښـتنې وکـړې. نومـوړي د بلخ ولایت لـه یـو شـمېر سـوداگرو سره پـه لیدنـه کې د ځینـو اقلامـو د تعرفې، گمرکي طی مراحلو او پـه ځینـو نورو برخو کې د دوی ستونزې واورېدې، چې د گمرکونو لـوی رئیـس لـه لـوري شـته امکاناتـو تـه پـه کتـو سره د ژر حـل کېـدو ډاډ ورکـړل سـو. د یـادوني وړ ده، چـې د گمرکونـو لـوی رئیـس مـوده وړانـدې کنـدوز ولایـت تـه هـم سـفر کـړی وو او هلتـه ئـې د گمـرك د چـارو د ارزونې تـر څنـگ د کنـدوز لـه والي او یـو شـمېر سـوداگرو سره هم لیدنه کـړې وه.




## د گمرکونو لوی رئیس د اقینې گمرک له چارو څخه لیدنه وکړه




د گمرکونـو لـوی رئیـس الحـاج مفتـي عبدالمتیـن سـعید، چـې د تخنیکـي پـلاوي پـه مـشرۍ فاریـاب ولایـت تـه پـه رسـمي سـفر تللـی، د اقینې گمـرك لـه چـارو څخـه د ارزونې تـر څنـگ ئـې د یـاد ولایـت لـه یـو شـمېر سـوداگرو سره هـم وکتـل. د گمرکونـو لوی رئیس د فاریـاب ولایت له یو شمېر سوداگرو سره په لیدنه کې په گمرکي چـارو کـې د دوی ستونزې واورېدې، چې د نوموړي له لوري د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو. د فاریـاب ولایـت سـوداگرو غوښـتنه وکـړه، چـې د سـوداگریزو توکـو د چټـك طی مراحلـو لپـاره دې د اقینې گمـرك کاري وخـت زیـات کـړل سي. د گمرکونـو لـوی رئیـس دوی تـه ډاډ ورکـړ، چـې ژر بـه شـته امکاناتـو تـه پـه کتـو سره د یـاد گمـرك کاري وخت زیات کـړي.

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# تولید و اهمیت ارزش اقتصادی صادرات بادام در افغانستان

دوکتور محمد اکبر نادرپور

افغانستان کشوری است دارای منابع سر شار طبیعی، احاطه شده با کوه های ارتفاع بلند، موقعیت استراتیژیک آن قلب آسیا، بزرگترین تولید کننده یی محصولات زراعتی و باغداری می باشد، بادام یکی از محصولات عمده باغداری در افغانستان به حساب می آید و بهترین محصول اقتصادی پرمنفعت برای باغداران در کشور بوده، بزرگترین مشتری بادام افغانستان کشور های مختلف جهان و به خصوص کشور هندوستان می باشد، صادرات این محصول نسبت به اکثر تولیدات و محصولات دیگر زراعتی و باغداری از اهمیت اقتصادي بهتر برخوردار است. تولید کنندگان محصولات بادام، رضایت کامل را در عرصه تولید این محصول با ارزش و پر منفعت اقتصادی می دانند، بادام به مقایسه زردالو، شفتالو، انگور، سیب، انار وسایر محصولات باغداری، در فی واحد زمین زراعتی نسبت به دیگر محصولات عاید بیشتر را دارا می باشد. از اینرو محصولات بادام بحیث یک محصول باارزش و برخور دار از اهمیت اقتصادی در جامعه افغانستان می باشد. بعد از تولید این محصول باارزش، بازار های داخلی کشور بهترین فرصت برای عرضه آن بوده و تقاضاکنندگان آن در داخل با علاقمندی خاص بادام را خریداری و مصرف می نمایند. اما در جهان مصرف کنندگان بادام روبه افزایش بوده و این خود فرصت صادرات را به کشور های مختلف تولید کننده و غیر تولیدی مساعد می نماید. جامعه افغانستان می تواند از بابت صادرات محصولات بادام عاید هنگفت راکمایی نموده، این عاید میتواند در رشد و عاید سرانه خانوادۀ زراعت پیشه تغییرات مستقیم را بوجود آورد، با توجه به اهمیت بادام و تولید آن، صادرات مغز بادام از افغانستان با کشور های مختلف جهان، بعد از آمریکا، اسپانیا، استرالیا، هانک کانگ، جرمنی، هالند، ایتالیا، ترکیه، بلجیم، چیلی وکشور ایران در ردیف دوازدهم نظر به فیصدی (۰,۳۵) و باارزش








(۲۵,۵) میلیون دالر آمریکایی قرار دارد. بادام کاغذی که مزه خاص خود را دارد، بهترین جایگاهی را در بازار های بین المللی در مارکیت های مختلف به خود جلب نموده است. همچنین بادام پوست دار بعد از آمریکا، استرالیا، هانک کانگ، پرتقال، اسپانیا، ایتالیا، ویتنام در رده نهم با فیصدی (۰,۲۱) باارزش (٦) میلیون دالر آمریکایی طی سال ۱۴۰۰ قرار دارد. بررسی هایکه توسط سازمان خوراکه زراعت و مصئونیت غذا ارائه شده، افغانستان در بخش تولید محصولات بادام درفهرست کشور های تولید کننده یی بادام جهان قرار داشته که تولید داخلی افغانستان در بخش بادام به (۲) فیصد می رسد و در سال های اخیر روند رشد سریع بادام را نشان می دهد. نکته کلیدی اینست که بهترین بازار برای محصولات بادام افغانستان کشور هندوستان بوده و بهترین فرصت را در امور صادرات جهت رشد و افزایش صادرات آن فراهم می نماید. با این حال رقابت سختی در بازار های جهانی وجود داشته در صورتیکه افغانستان سهم خویش را در عرصه صادرات محصول بادام کمتر نماید جایگاهی بازار های هندوستان راکشور های ایالات متحدۀ آمریکا و کشور استرالیا با افزایش سهم صادرات شان می تواند بازار های هندوستان را تحت تاثیرات خود در آورده، سهم بازار بادام افغانستان را در مارکیت های هندوستان کاهش دهد.

تجزیه و تحلیل ما نشان میدهد، جریان صادرات و بازیگران تجارت بادام افغانستان باید تلاش نمایند تا محصول بادام راکه جایگاهی خوب در مارکیت های بین المللی به خصوص مارکیت های هندوستان پیدا کرده است، فرصت ها را برای بهبود کمیت و کیفیت محصول در نتیجه بهبود تقاضا و بازاریابی آن با بسته بندی مناسب و قابل قبول برای بازار های صادراتی که صادر کننده آن را تعیین می نماید، کدام نوع بادام با کدام بازار صادراتی توافق دارد آن محصول را افزایش و صادرات را بهبود بخشد. همچنین مارکیت های بزرگ جذب کنندۀ محصولات صادراتی بادام افغانستان، شامل کشور های هندوستان، امارت متحدۀ عربی، پاکستان و کشور های جنوبی آسیا می باشند. با اینکه ارزش اقتصادی و میزان صادرات بادام در سال های اخیر بین (۵ تا ٦) هزارتن به ارزش (۳۵) میلیون دالر امریکای بوده است. به این معنا هر کیلو بادام افغانستان با پوست خشک در بازار های جهانی با قیمت (٦,۵) دالر به فروش رسیده است. بادام از جمله یی میوه جات خشک و با ارزش افغانستان است که در سال های جنگ و نا امنی این محصول به شکل پراگنده جمع آوری و به قیمت بسیار پائینی به فروش می رسید. با آمدن حکومت امارت اسلامی افغانستان، تأمین صلح و امنیت سراسری در کشور، باغداران توانسته اند در سال های اخیر بعد از جمع آوری محصولات خویش به راحتی بادام شان را در بازار های ملی افغانستان با مفاد بلند برای تجاران ملی و بین المللی با قیمت مناسب به فروش به رسانند که خود نمایانگر رضایت باغداران و تولید کنندگان محصولات بادام را در داخل کشور، تغییر و بهبود وضعیت اقتصادی باغداران را نشان می دهد.

بادام که با ارزش ترین محصول اقتصادی در جهان به حساب می آید، تولید جهانی آن در سال (۲۰۲۰) در حدود (٤,۱٤) میلیون تن تخمین گردیده بود، که (۵۷) فیصد تولید بادام مربوط به کشور ایالات متحده آمریکا تعلق می گرفت و سایر تولید کنندگان محصولات بادام که شامل کشور های ، اسپانیا، استرالیا، ایران، ترکیه و مراکش می باشند (۲٦) فیصد تولیدات محصولات بادام را در جهان به خود اختصاص داده اند. از اینرو بادام بحیث یک محصول با ارزش، در آمد زا، پر منفعت برای تولید کنندگان، ایجاد کنندۀ شغل، تقویت کنندۀ اقتصاد، توزیع عادلانه ای عاید برای باغداران، تجاران محلی و بین المللی در عرصه تجارت و کسب و کار این محصول با ارزش و بهبود وضعیت اقتصادی جامعه افغاسنان در عرصه تولید و تجارت آن به سطح ملی می باشد.


# اعلانات داوطلبی

## د داوطلبۍ خبرتیا

افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت په شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د عوایدو لوی ریاست اړوند د مالیاتي حوزو لپاره د (۴۰) عراده موټر سایکلونو د تهیه او تدارك ) پروژې کې، چې تشخصیه نمبر ئې (Rebid ۰۸۲-NCB/G/۱٤۰۲/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دری ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي پتو څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبۍ وړاندي جلسې ټاکلې نېټه: ۱۸/ دلو /۱۴۰۲ د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفرگشایۍ ټاکلې نېټه: د دلوي ۲۹/ /۱۴۰۲ د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمین: ۱۲۸۰۰۰ ( یو لك او اتویشت زره ) افغانۍ.

ځای: پښتونستان واټ ،د مالیې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت – پښتونستان واټ.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

په څنډ رسېدلي او انټرنټي آفرونه نه منل کېږي.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه) تخلیه و بارگیری اموال گمرکی در گمرک های کندهار و سپین بولدك( دارای نمبر تشخیصیه (Rebid-۰۹۵-NCB/NCS/۱٤۰۲/MOF) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعه ای فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۸/ دلو/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۸/ دلو /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۲۵۰,۰۰۰ (دو صد و پنجاه هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه) تخلیه و بارگیری اموال گمرکی در گمرك های کندهار و سپین بولدك( دارای نمبر تشخیصیه (۰۹۵-NCB/NCS/۱٤۰۲/MOF-Rebid) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعه ای فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۸/ دلو/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۸/ دلو /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ۲۵۰,۰۰۰ (دو صد و پنجاه هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

## د څلورمي ناحیې اړوند باغ بالا سیمه کې د موازي (۱٦۰،۱۵) جریبه ځمکي د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست د کابل ښاروالۍ څلورمي ناحیې اړوند باغ بالا سیمه کي موازي (۱٦۰،۱۵) جریبه ځمکه او ترانگي په سر ترړلي آفر داوطلبۍ ته سپاري. هغه حقیقي او حکمي وگړي، چې د دې ځمکي په کرایه نیولو غوښتونکي دي، کولای سي خپلي غوښتني د خبرتیا د خپرېدو له نېټې وروسته د (۲۱) ورځو په موده کي د پامیر سینما (۱۴) پوړیزي ودانۍ څلورم پوړ د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او همدا راز شرطپاڼه د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کي له بیرته ورکړي پرته ترلاسه کړي.

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه






## د افغانســتان پــه تــېراو د قزاقســتان پرمختللــې او پراخــه تــگلاره

د ډیپلومــاټ ـ THE DEPLOMAT پــه نــوم جاپانــی رســنی د افغانســتان او قزاقســتان د ســوداگرۍ پــه اړه یــوه اوږده مقالــه یــا تحلیــلي لیکنــه خپــره کــړې ده او بېلابېلــو ســوداگریزو او ټرانســپورټي برخــو تــه ئــې پــه کښــې اشــاره کــړې ده، چــې منځپانگــه ئــې پــه ټولیــز ډول د افغانســتان او قزاقســتان پــر ســوداگریزو اړیکــو را څرخــي.
مقالــه لیکــي، چــې د افغانســتان بــازار او د یــوې ســوداگریزې لارې پــه توگــه، چــې مرکــزي اســیا د جنــوبي اســیا لــه بندرونــو سره نښــلوي، د قزاقســتان لــه پــاره خــورا مهــم گڼــل کېــږي؛ ځکــه چــې قزاقســتان لــه داخــلي او خارجــي ننگوونــو او خطرونــو سره مــخ دئ او غــواړي لــه دې حالــت سره مقابلــه وکــړي.
د قزاقســتان لــه پــاره د افغانســتان بــازار او موقعیــت دواړه اړیــن دي، چــې وایــي: د افغانســتان بــازار (د صنعتــي او کرنیــزو محصولاتــو د واردوونکــي پــه توگــه) او د

> "سیاست سیاست دئ، اقتصاد اقتصاد دئ.
> د (۲۰۲۳)ز پــه جنــوري کــې افغانســتان تــه د (۱۳۳.۸) میلیونــو ډالــرو پــه ارزښــت د ډېــزلي- برېښــنايي رېــل گاډي یــا اورگاډي لوکوموټیــو صادرولــو لــه املــه افغانســتان د قزاقیســتان لــه (۱۰) غــوره ســوداگریزو شریکانــو څخــه ســو."

دې هیــواد موقعیــت (د یــوې ســوداگریزې لارې پــه توگــه، چــې کــولای سي منځنــی اســیا د پاکســتان پــه څېــر هیوادونــو سره؛ چــې مهــم بندرونــه لــري، سره و مښــلوي) دواړه د قزاقســتان لــه پــاره خــورا مهــم دي او دا د افغانســتان اړونــد نــوې تــگلاره رامنځتــه کــوي.
د اوکرایــن جگــړې پــر ســوداگرۍ اغېــزه کــړې ده، نــو قزاقــي چارواکــو د خپــل هیــواد لــه پــاره د نــوو بازارونو، ســوداگریزو لارو او اقتصــادي فرصتونــو د پیــدا کولــو ارزښــت درک کــړ.
پــه دې تحلیــل کــې روســیه هــم دې خــوا ت هڅــول کېږي او وایــي روســیه کــولای سي، چــې د ســویلي اســیا لــه لارې لــه ســوداگرۍ څخه گټه واخلي او په دې اړه د روســیې ولســمشر ولادیمیــر پوتیــن پــه تېــر جــولای میاشــت کــې و ویــل: "نړیــوال ټرانســپورټي دهلېــز «شــمال – جنــوب» بــه د روســیې مالونــه د افریقــا وچــې او بیرتــه روســیې تــه د لنــډې لارې پــه مرســته سره امــاده کــړي." پــه دې انگېــزې سره د جنــوبي اســیا هیوادونــو پــه ځانگــړې توگــه لــه افغانســتان سره د قزاقســتان پــه لېوالتیــا کــې د پــام وړ زیاتوالــی راغلــی دئ؛ نــو ځکــه پــه ډیســمبر کــې قزاقیســتان طالبــان لــه تــور نوملــړ (لیســټ) څخــه و ایســتل.
لــه افغانســتان سره د ســوداگرۍ د ډېرښــت پــه اړه داسي کاږي: «پــه (۲۰۲۲)ز کال کــې د افغانســتان او قزاقســتان تــر منــځ د ســوداگرۍ کچــه (۹۸۷،۹) میلیونــه ډالــرو تــه رسېدلې وه، چې د پروسږ کال پــه پرتله دوه برابــره، (۴۷۴،۳) میلیونــه ډالره ده».
د (۲۰۲۳)ز تــر نومــبر پــورې د دواړو هیوادونــو تــر منــځ ســوداگرې (۵۸۳) میلیونــو ډالــرو تــه را کښــته ســوې وه.
د (۲۰۲۳)ز پــه (مــې میاشــت) کــې لــه افغانســتان سره د ســوداگرۍ پــه اړه د قزاقســتان د لومــړي وزیــر مرســتیال او د ســوداگرۍ د پرورښــت وزیــر (ســېریک ژومنگاریــن) وویــل: "سیاســت سیاســت دئ، اقتصــاد اقتصــاد دئ."
مقالــه وایــي، چــې لــه دې څخــه موخــه دا وه، چــې پرتــه لــه دې، چــې د طالبانــو حکومــت پــه رســمیت وپېژني او د دوی لــه کورنیــو پالیســیو سره موافــق نــه وي، دا ممکنــه ده، چــې دوه اړخیــزه ســوداگریزې اړیکــې گټــورې وي؛ ځکــه چــې دا دواړو خــواوو تــه گټــه رســوي.
د (۲۰۲۳)ز پــه جنــوري کــې افغانســتان تــه د (۱۳۳،۸) میلیونــه ډالــرو پــه ارزښــت د ډېــزلي- برېښــنايي رېــل گاډي یــا اورگاډي (لوکوموټیــو) صادرولــو لــه املــه افغانســتان د قزاقســتان لــه (۱۰) غــوره ســوداگریزو شریکانــو څخــه ســو.
قــزاق – افغــان ســوداگریز فــورم د (۲۰۲۳)ز کال پــه اپریــل کــې جــوړ ســو، د فــورم پــه تــرځ کــې دوی پــه کابــل کــې د ســوداگرۍ خــوني د پرانیســتلو اعــلان وکــړ.
د «ټرانســپورټ او لوژســتیك پــه برخــه کــې د قزاقســتان گټــې» تــر سرلیــك لانــدې پــه افغانســتان کــې د اورگاډي پټلــۍ تــه اشــاره هــم ســوې ده، چــې وایــي: «قزاقســتان لا دمخــه د افغانســتان د رېــل پټلــۍ د ظرفیــت پــه بیــا رغولــو کــې مرســته کــړې ده. د افغانســتان د اوســپني پټلــۍ اداري او قزاقســتاني شرکــت د (۲۰۲۳)ز پــه اکتوبــر کــې لــه روزانــك سټېشــن څخــه تــر رباطریــان سټېشــن (۴۳ کیلومیــتره) پــورې د اورگاډي پټلــۍ د یــوې ځانگــې د جوړولــو د کار د بیــا پیلولــو تــړون لاسلیك کــړ».
تــر رېــل پټلــۍ وروســته قزاقســتان د افغانســتان د کانونــو پــه اړه هــم خوشــبین دئ او وایــي، چــې افغانســتان د مسو، سرو زرو، قیمتــي ډبــرو او نــورو زېرمــو لــه پلــوه بــډای دئ. د امریــکا د جیولوژیکــي سروې اداري (USGS) د افغانســتان یــوازې د (۳۰٪) خــاورې د سروې پــر بنســټ د دغــه ملــك د سرچینــو شــتمني شــاوخوا یــو ټریلیــون ډالــره اټکل کــړې ده.
مقالــه پــه پایلــه کــې یــوه داسي کرښــه هــم کاږي: «کــه چیــرې پــه افغانســتان کــې نســبي ســوله دوام پیــدا کــړي؛ نــو د افغانســتان پــه تــېراو بــه د قزاســتان تــگلاره پــه عمــلي توگــه د همــکارۍ لــه تقویت سره مــخ سي».

## Customs Exports Increase in First 10 Months of Current FY1402

In the first 10 months of 1402 fiscal year, exports worth more than 122 billion Afs have been made to various countries, due to the facilities created on behalf of MoF for traders in the country's customs and the serious struggle against corruption.

Exports include
- fruits worth about 43 billion Afs,
- cotton worth 16 billion Afs
- and vegetables worth 17 billion Afs


which have been exported to Pakistan, India and the UAE.

MoF has always tried to create necessary facilities for domestic and foreign businessmen in the customs proceedings, so that the traders can easily complete the customs processing of commercial goods within a short period of time.

FY1402 | EXPORTS | 10Months(Hamal-Jadi)

Sum | Billions Afs

| Items | Customs Value |
| --- | --- |
| Export Items | 122.633 |



## Minister of Finance Inaugurates Construction of Parking Lot Worth 47.5 mln Afs at Balkh Customs

Minister of Finance Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund, who went to Balkh province on an official visit, has inaugurated the construction of a car parking area at the customs office of the Balkh province, which worths 47.5 million Afs. In the opening meeting, the Governor of Balkh, Haji Muhammad Yusuf Wafa; the General Director of Customs, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed; the Director of Customs of Balkh; Mustofy of this province; the Director of Chamber of Investment and the officials of some local bodies also participated. Besides encouraging the traders, Balkh governor said that under the guidance of the leadership of the IEA, all bodies are obliged to provide necessary facilities to traders and investors in various fields. “Our effort is to start similar projects in other customs offices of the country in order to boost trade in the country and provide necessary facilities to the businessmen,” said the minister of finance.



In addition to sharing the technical information of this project, Saeed has told that the General Directorate of Customs is trying to create all possible facilities for traders in the country's customs and pledged that they are ready to admit all legal demands of the traders within the available possibilities. The project of Balkh Customs car parking area is implemented on about 7.5 Jiribs (acres) of land, which will be completed within the next seven months and the parking area is going to be concreted basically. Notably, the budget of this project is paid from the development budget of the Ministry of Finance.